په تاسو کې هیڅوک مومن کیدلی نه شي؛ تر څو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي

له انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "په تاسو کې هیڅوک مومن کیدلی نه شي؛ تر څو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي".
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې هیڅ مسلمان تر هغه پورې د بشپړ ایمان خاوند کېدلی نه شي تر څو چې خپل مسلمان ورور ته هغه څه خوښ کړي چې ځانته يې خوښوي هغه که: طاعتونه او یا هر ډول دیني او دنیوي ښېګڼې وي او دا چې څه د ځان لپاره بد ګڼي د هغه لپاره يې هم بد وګڼي، نو که چېرته يې په خپل ورور کې دیني نېمګړتیا ولیده، په اصلاح کې يې زیار باسي او که کومه ښېګڼه يې پکې ولیده نو ملاتړ يې کوي او د دین او دنیا په اړه يې ورته نصیحت کوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4717